# د الله او رسول ازمرے

# حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ

**10-April-2025**



هفته وراره د سُنَّتونکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنَّتونک بيان

(For Islamic Brothers)

پۀ 10 اپریل، کال 2025ء (بمطابق 11 شوال شریف، کال 1446ھ)

د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د الله او رسول ازمرے
# حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د الله پاک پۀ لاره کښې تکلیفونه برداشت کول سُنَّت دي
- د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوښ نوم
- د مزار پۀ خاوره کښې شِفا ده
- د رحمت نه محرومه خلق

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ **(ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د مسلمانانو د خوږې مور جاني حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا نه روايت دے، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کله چې بنده په ما باندې درودِ پاک لولي نو د دې په برکت سره يوه فرښته د **الله پاک** په بارګاه کښې حاضرېږي، د هغه فرښتے د پاره حکم کيږي: دا زما د بنده د قبر خوا له يوسه! چې دا زما د بنده د پاره د بخښني دُعا کوي او زما د بنده سترګې پرې يخيږي- [1]

ذاتِ والا پہ بار بار دُرود | بار بار اور بے شُمار دُرود
قبر میں خوب کام آتی ہے | بیکسوں کی ہے یارِ غار دُرود (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے- [3]

---

1...مسندِ فِردَوس، جلد:4، صفحه:10، حديث:6026 بتغير-

2...ذوقِ نعت، صفحه:123 تا 125 ملتقطاً-

3...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1 -

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د **الله پاک** د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پۀ اَدب به کښینم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِسلام د قبلولو واقعه

یو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صفا غونډۍ سره نزدې تشریف فرما وو، پۀ دې کښې د اِسلام دښمن ابو جَهل هلته راغلو، دغه بد بخته محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته مَعَاذَ الله! کنځلې شروع کړې، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! سراسر حِلم دے، هغوئي پۀ خاموشۍ سره د ابو جهل بکواس اوریدو، پۀ جواب کښې یې یو لفظ هم اونه وئیلو۔

نو ابو جهل بخپله د بکواس کولو نه پس چپ شو او لاړو۔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم د هٰغه ځائے نه تشریف یوړلو۔ لږ وخت تیر شوے وو چې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ ترۀ حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ (ځوک چې لا تر هٰغه وخته پورې مسلمان شوے نۀ) وو، هغوئي هم پۀ هٰغه ځائے تیریدلو، چا ورته ووئیل چې حمزه! ابو جهل نن ستاسو د ورارۀ سره بد تمیزي کړې ده۔ دا خبره چې یې واوریدله نو هغوئي غصه شو او نیغ د ابو جهل خوا له لاړو او د هغۀ پۀ وهلو یې لاس پورې کړو۔

ابو جهل پۀ خپله صفایۍ کښې ووئیل چې اے حمزه! تۀ نۀ ګورې چې مُحَمَّد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) څنګه دِین راوړے دے؟ حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تر هٰغه وخته پورې ایمان نۀ وو راوړے خو هٰغه وخت د هغوئي پۀ زړۀ او دماغو باندې د خپل ورارۀ (یعنې

د حضور اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) محبت غالب وو، هغوئي د ابو جهل پهٔ خبره اوریدو باندې وفرمائیل: تهٔ واقعي ده چې بد عقله یـې چې پهٔ خپلو لاسونو باندې جوړ کړے شوي کاڼي خدایان منې- زهٔ ګواهي ورکووم چې د **الله پاک** نه علاوه څوک هم معبود نشته دے او مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله رښتونے رسول دے- [1]

هٰغه وخت د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ زړهٔ باندې د خوږ مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت غالب وو، هغوئي د شهادت کلمه ووئیله، فرمائي: وروستو زهٔ پهٔ دې باره کښې پریشانه شوم، ما ټوله شپه پهٔ سوچ کښې تیره کړله، سحر د کعبې حرم ته حاضر شوم او پهٔ ژړا ژړا مې د **الله پاک** پهٔ بارګاه کښې دعا وکړه چې یا **الله** پاکه! زما سینه د حق د پاره کولاو کړې او زما نه شک لرې کړې، لا ما دُعا پوره کړې هم نهٔ وه چې زما د زړهٔ نه شک لرې شو او پهٔ دِین اِسلام باندې مې یقین پوخ شو، بیا زهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضر شوم، د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې مې ټول حال وړاندې کړو نو رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم زما پهٔ حق کښې دعا وکړه- [2]

## د امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ شان کښې آیت نازل شو

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې د اِسلام پهٔ دولت مالا مال شو نو هٰغه وخت د هغوئي پهٔ شان کښې دا آیت مبارک نازل شو-

---

1...تفسیر کبیر، پارہ:8، سورۂ انعام، تحت الآیۃ:122، جلد:5، صفحہ:134۔

2...الروض الانف، اسلام حمزۃ، جلد:2، صفحہ:51۔

اَوَ مَنۡ کَانَ مَیۡتًا فَاَحۡیَیۡنٰہُ وَ جَعَلۡنَا لَہٗ نُوۡرًا یَّمۡشِیۡ بِہٖ فِی النَّاسِ
(پارہ:8، سورۂ انعام:122)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او آیا هغه کوم چې مړ وو بیا هغهٔ مونږه ژوندے کړو او مونږ د هغهٔ د پاره یو نُور جوړ کړو د کوم په ذریعه چې هغهٔ په خلقو کښې ګرځي-

مجھ سے کس طرح بیاں شان ہو حضرت حمزہ | کُل شہیدوں میں وہ ذی شان ہو حضرت حمزہ
آپ کے دم سے بڑھی شوکتِ اسلام شہا | باعثِ قوتِ ایمان ہو حضرت حمزہ
آپ کو بخشا گیا سیدِ شُہدا کا لقب | دین پہ اس طرح قربان ہو حضرت حمزہ
شاہِ کونین سے یوں کر گئے تکمیل وفا | جان سے آقا پہ قربان ہو حضرت حمزہ

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## حِلم او برداشت اختیار کړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د اِسلام راوړلو واقعه کومه چې مونږه اوس واوریدله، په دې کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حِلم شان ته وګورئ! ابو جهل بد بخته کوم چې د جاهلانو سردار وو، دهٔ بکواس کولو، بکواس کولو، کنځلې یې کولې خو خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جواب کښې یو لفظ هم ارشاد نهٔ کړو، د دې حِلم برکت دا ظاهر شو چې حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ کلمه ووئیله او مسلمان شو-

کوئی گالی سناتا تھا، کوئی پتھر اُٹھاتا تھا | کوئی توحید پر ہنستا تھا، کوئی منہ چڑاتا تھا
مگر وہ منبعِ حِلم و صفا خاموش رہتا تھا | دُعائے خیر کرتا تھا، جفا وظلم سہتا تھا(1)

1…شاہنامۂ اسلام، حصہ: اول، ص118 ملتقطًا۔

## د اللّٰه پاک پۀ لاره کښې تکليفونه برداشت کول سُنَّت دي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** تاسو وکتل چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِسلام د پاره څنګه څنګه تکليفونه تير کړي دي! دا هر څۀ پۀ ښکاره د نيکئ د دعوت شروع کولو نه پس وشول- لهذا چې کله هم چا ته د نيکئ د دعوت ورکولو او د هغې پۀ وجه څۀ تکليف تيرول راشي نو د مکي مَدَني آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِسلام د تبليغ پۀ لاره کښې تير کړي تکليفونه دې راياد کړي او د **اللّٰه پاک** شُکر دې ادا کړي چې **اللّٰه پاک** هغوئي ته د دِين د پاره د سختو برداشت کولو د سُنَّت ادا کولو سعادت عطا کړو- دغه شان به اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! شيطان ناکامه او نامُرداه کيږي او صبر کول به اسان شي-

يقيناً چې د خُدائے پۀ لاره کښې تکليفونه برداشت کول هم **سُنَّت** دي او پۀ دې باندې صبر کول هم **سُنَّت** دي او د ډيرو سختو برداشت کولو باوجود د نيکئ د دعوت سلسله جاري ساتل هم **سُنَّت** دي-[1]

سنّتیں عام کریں، دین کا ہم کام کریں | نیک ہو جائیں مسلمان مدینے والے!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت امير حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ مختصر تعارف

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** حضرت امير حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ تره دے، هغوئي د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنيا ته د تشريف راوړلو نه دوه کاله مخکښې دُنيا ته تشريف راوړلو- د هغوئي مشهور لقبونه: (1): اَسَدُ اللّٰه (د الله ازمرے) (2): اَسَدُ الرَّسُول (د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

1 ... بهيانک اُونٹ، صفحه:6-

ازمرے) (3): فاعِلُ الْخَیْرات (ډیرې نیکۍ کولو والا) او (4): سَيِّدُالشُّهَدَاء دي۔ [1]

## د خوږ آقا صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره درې رشتې

حضرت امیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د ډیرو اړخونو نه د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رشته دار دے: (1): هغوئي د رسولِ کریم، رءف و رحیم صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تره دے (2): د حضرت امیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ مور بي بي د نبي کریم صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مور بي بي سیده آمنه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د تره لور ده، داسې امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مور د طرف نه د ترور زوي شو (3): حضرت امیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضاعي ورور هم دے چې حضرت ثُوَیْبَه او حضرت حلیمه سعدیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما څوک چې د رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضاعي مئیندې دي، حضرت امیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هم د دې دواړو پۍ خوړلې دي۔ [2]

| | |
|---|---|
| کیا پوچھتے ہو کیا ہیں حضرت امیرِ حمزہ | حیرت کی انتہا ہیں حضرت امیرِ حمزہ |
| اللہ رے یہ نسبت، اللہ رے یہ عظمت | سرکار کے چچا ہیں حضرت امیرِ حمزہ |

## د خوږ آقا صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښ نوم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفےٰ صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپل خوږ تره حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سره ډیر محبت فرمائیلو، حضرت جابر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي چې یو ځل یو کَس بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او عرض یـې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زمونږ کَره ماشوم پیدا شوے دے، هغهٔ له څهٔ نوم کیږدو؟ رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: زما د خپل تره حمزه بن

1... شرح زرقانی مواہب الدنیه، جلد:4، صفحه:470، اُسد الغابة، جلد:2، صفحه:67۔

2... اُسد الغابة، جلد:2، صفحه:67۔

عبد المطلب نوم ډیر خوښ دے، خپل بچي له دا نوم کیږده---!! [1]

## الله پاک ښه وعده وفرمائیله

پهٔ 20 سیپاره، سورهٔ قَصَص، آیت: 61 کښې ارشاد دے:

اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِیْهِ كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ثُمَّ هُوَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِیْنَ ﴿۶۱﴾

(پاره:20، سورهٔ قصص:61)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو هُغه کس چا سره چې مونږه ښه وعده کړې ده بیا هغهٔ هغې (وعدې) سره ملاقات کوونکے (هُم) دے آیا هغهٔ د هُغه کس پهٔ شان دے چا لره چې مونږه (صرف) د دُنیائي ژوند ساز و سامان د فائدې اوچتولو د پاره ورکړے وي بیا هغهٔ د قیامت پهٔ ورځ د ګرفتار کړے شوو حاضرَوُونکو نه شي۔

پهٔ دې آیت مبارک کښې وفرمائیلے شول چې دوه کسان دي: **(1)**: یو هغهٔ دے د چا سره چې **الله پاک** د جنَّت وعده کړې ده او هغهٔ به ضرور جنَّت ته رَسي او **(2)**: دویم هغهٔ دے کوم ته چې د دُنیا مال عطا کړے شو، بیا به د قیامت پهٔ ورځ باندې هغهٔ ګرفتار کړے شي او راوستلے به شي، آیا دا دواړه یو شان کیدے شي؟ هیڅکله هم نشي کیدے۔ مُفَسِّرین کرام فرمائي: دا آیت مبارک هم د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او د ابو جهل پهٔ باره کښې نازل شو، پهٔ دې آیت کښې هُغه کَس د چا سره چې **الله پاک** د جنَّت وعده کړې ده، د هغهٔ نه مُراد حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے او هُغه کَس چا ته چې د دُنیا مال ورکړے شو خو د قیامت پهٔ ورځ باندې به هغهٔ ګرفتار راوستلے شي، د هغهٔ نهٔ مُراد ابو جهل دے۔ [2]

---

1...مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، جلد:4، صفحه:200، حدیث:4940۔

2...ذخائر العقبیٰ، صفحه:300۔

## د الله او رسول ازمرے

**پۀ معجم کبير کښې دي:** د **الله پاک** اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پۀ هُغه ذات باندې مې دې قَسم وي د کوم پۀ قبضه کښې چې زما ځان دے! بے شکه پۀ اووم اسمان باندې ليکلے شوي دي: حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَسَدُ اللّٰهِ وَأَسَدُ رَسُوْلِهٖ يعنې حضرت حمزه بن عبدُ المُطَّلِب د الله او د هغۀ د رسول ازمرے دے۔ (1)

وہی شیر ہیں خُدا کے اور شیر مصطفٰے کے | ہیں مُحِبِّ حبیبِ داور آقا امیر حمزہ!

## حضرت حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ پۀ جنَّت کښې ډېره وهلې

د حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللہُ عَنْهُما نه روايت دے، د **الله پاک** اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د شپې چې زۀ جنَّت ته داخل شوم نو وه مې ليدل چې حمزه (رَضِیَ اللہُ عَنْهُ) د خپلو دوستانو سره موجود وو۔ (2)

پۀ يو روايت کښې دي، فرمائي: د شپې چې زۀ جنَّت ته داخل شوم نو وه مې ليدل چې حضرت جعفر طيار رَضِیَ اللہُ عَنْهُ د فرښتو سره پۀ هوا کښې الوتلو او حضرت حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ پۀ تخت باندې ناست وو او ډېره يې وهلې وه۔ (3)

## د حضرت امير حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ شهادت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ 15 شوال، کال 3 هجرئ د حق او د باطل عظيم جنګ وشو، کوم ته چې غزوۀ اُحُد وئيلے شي، پۀ غزوۀ اُحُد کښې حضرت امير حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ هم شريک وو، هغوئ ډېر پۀ بهادرئ سره وجنګيدو او پۀ اخره کښې يې د شهادت

1...معجم کبير، جلد:2، صفحه:266، حديث:2881۔

2...استيعاب، باب جعفر، جلد:1، صفحه:314 ملتقطاً۔

3...مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، جلد:4، صفحه:201، حديث:4942۔

اوچته مرتبه ترلاسه کړه-[1] د شهادت په وخت د هغوئي عمر مبارک 57 کاله وو-[2]

| | |
|---|---|
| سرداری تمہیں حاصل ہے سارے شہیدوں کی | یوں حق کی حفاظت میں کی جان فدا حمزہ |
| احسان نہ بھولے گا میدانِ اُحد تیرا | ہے اس کی شبِ جاں میں اب تیری ضیا حمزہ |

## د حضرت امير حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په شهادت باندې

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غم

په روايتونو کښې دي: سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل خوږ ترۀ حضرت امير حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مړ وجود مبارک خوا ته ودريدلو او اوئې فرمائيل: : يَاحَمْزَةُ اے حمزه! يَاعَمَّ رَسُوْلِ اللّٰهِ اے د رسول الله ترۀ جانه! وَأَسَدَ اللّٰهِ وأَسَدَ رَسُوْلِهٖ اے د الله او د رسول ازمريه! يَاحَمْزَةُ يَافَاعِلَ الْخَيْرَاتِ اے حمزه! اے په نيکو کښې مخکښې کيدونکيه! يَاحَمْزَةُ يَاكَاشِفَ الْكُرُبَاتِ اے حمزه !اے رنج او غم لرې کوونکيه! يَاحَمْزَةُ يَاذَابًّا عَنْ وَجْهِ رَسُوْلِ اللّٰهِ اے حمزه! اے د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د دښمنانو زغلوونکيه ! [3]

| | |
|---|---|
| آپ کے دَم سے بڑھی شوکتِ اسلام شہا! | باعثِ قُوَّتِ ایمان ہو حضرت حمزہ |
| آپ کو بخشا گیا سیدِ شہدا کا لقب | دِین پہ اس طرح قربان ہو حضرت حمزہ |
| آپ کے اُسْوَۂ حسنہ پہ مشاہدؔ بھی چلے | اس نکمے پہ یہ احسان ہو حضرت حمزہ |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## جنازه او تدفين

په غزوۀ اُحُد کښې په شهيد شوو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم کښې د ټولو نه وړومبے

---

1...معرفة الصحابة، جلد:2، صفحه:17-

2...أُسد الغابه، جلد:2، صفحه:70-

3...ذخائر العقبٰی، صفحه:306-

جنازه د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ادا کړے شوه، بیا به يو يو شهيد راوړے کیدلو، د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خوا کښې به کیښودلے کیدو او د هغۀ جنازه به ادا کولے شوه، [1] پۀ بعضې روایتونو کښې دي چې د لسو لسو شهیدانو جنازه ادا کړے شوه او پۀ هُغه لسو کښې هر ځل حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم شریک وو۔ [2]

## فرښتو غسل ورکړو

حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حضرت ابو بکر، حضرت عمر فاروق او حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم قبر مبارک ته کوز کړو، د **الله پاک** اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قبر پۀ غاړه باندې تشریف فرما وو، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: ما ولیدل چې فرښتے حضرت حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ له غسل ورکوي۔ [3]

## مزار مبارک

د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مزار مبارک پۀ مدینه منوره کښې د اُحُد غر پۀ خوا کښې دے۔ د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ مزار مبارک باندې دعاګانې قبلیږي او مرادونه اوریدلے کیږي۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! عاشقانِ رسول د هغوئي مزار مبارک ته حاضري کوي، ښې ډیرې دعاګانې کوي او د زړۀ مُرادونه حاصلوي۔

## د مزار پۀ خاوره کښې شِفا ده

علّامه سمهودي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ لیکلي دي چې د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مزار مبارک پۀ برکتي خاوره کښې شِفا ده، د پخوا زمانې نه د نیکانو خلقو طریقه ده چې د حضرت

1...طبقات الکبری، جلد:3، صفحه:7۔

2...سنن کبری للبیهقی، ابواب الشهید، جلد:4، صفحه:157، حدیث:6804۔

3...طبقات الکبری، جلد:3، صفحه:7۔

امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مزار مبارک خاوره وړي او هغه د دوایی پۀ توګه استعمالوي- [1]

اَلْحَمْدُلِلّٰه! شیخِ طریقت امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ لیدلے شوے دے چې هغوئي د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مزار مبارک خاوره پۀ سلایی باندې پۀ سترګو کښې پورې کوله-

## د میلمنو حفاظت یې وکړو

شیخ سعید بن قُطب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مزار مبارک ته پۀ کثرت سره حاضري کوله- عام طور به د مدینے منورې اوسیدونکو عاشقانِ رسول پۀ 12 رَجَبُ الْمُرَجَّب د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مزار مبارک ته حاضري کوله خو حضرت سعید بن قطب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به څو ورځې مخکښې حاضریدلو او د 12 رَجَبُ الْمُرَجَّب پورې به هم هلته ایساریدلو- شیخ محمد بن عبد اللطیف مالکي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: یو ځل زۀ هم د شیخ سعید رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ سره د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مزار مبارک ته حاضر شوم، چې شپه شوه نو ټول خلق اوده شول، زۀ د هغوئي د حفاظت د پاره ویخ ووم، د شپې ما هلته پۀ آس باندې سور یو انسان ولیدلو، کوم چې د مزار مبارک خواته ګرځیدلو، ما د هغه پۀ آس سور کَس نه پوښتنه وکړه: تۀ څوک یې؟ اوئې فرمائیل: زما نوم حمزه بن عبد المطلب دے او زۀ ستاسو حفاظت کووم- د دومره فرمائیلو نه پس حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د نظر نه غائب شو- [2]

*بابُ الدُّعا ہے بےشک جن کا مزارِ انور | وہ بندۂ خدا ہیں حضرت امیر حمزہ*

**وضاحت:** حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د **الله پاک** داسې خاص بنده دے چې د هغوئي مزار مبارک د دعاګانو د قبلیدو لاره ده چې کومه دُعا د دوئي پۀ مزار مبارک باندې

1...وفاء الوفاء باخبار دار المصطفٰے، الفصل السادس، الاستشفاء بتراب صعیب، جلد:1، صفحه:60۔
2...جامع کرامات اولیا، جلد:1، صفحه:109 بتغیر قلیل۔

وغوښتلے شي هغۀ ضرور قبليږي-

## د حضرت امير حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دوه اعلیٰ صفتونه

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ حديثِ پاک کښې دي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت امير حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ مخاطب کړو او د هغوئي د دوو ښکلو او اعلیٰ صفتونو ذِکر يـې وفرمائيلو: (1): يَا وُصُولَ الرَّحۡم اے ډيره صِله رحمي کوونکيه! (2): يَا فُعُولُ الۡخَيۡرَات اے ډيرې نيکۍ کوونکيه! (1)

څومره ښکلي دوه صفتونه دي، **الله پاک** دې مونږ ته هم توفيق راعطا کړي، مونږ له هم دا دواړه صفتونه اختيارول پکار دي!

## صِلَه رحمي کوئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** صِله رحمي يعنې د خپلوانو سره ښه سلوک کول لازمي او ضروري دے- **الله پاک** پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیۡ تَسَآءَلُوۡنَ بِهٖ وَ الۡاَرۡحَامَ ؕ (پاره:4، سورهٔ نساء:1) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د الله نه وه يَريږئ د چا پۀ نُوم چې د يو بل نه غوښتنه کوئ او د خپلوی (ماتولو نه ځان ساتئ.) |

پۀ **تفسيرِ مظهري** کښې دي: يعنې تاسو د قطع رحمۍ (يعنې د خپلوانو سره د تعلق پريښودو) نه بچ اوسئ- (2)

معلومه شوه چې د خپلولۍ پۀ معامله کښې هميشه د دې خبرې ويره پۀ زړۀ کښې ساتل پکار ده چې چرته رشته دار ته زما نه څۀ تکليف اونه رسيږي، چرته داسې کار

---

1...مسند بزار، جلد:17- صفحه:21، حديث:9530 بالفاظ ديگر-

2...مظهري، پاره:4، سورهٔ نساء، زير آيت:1، جلد:2، صفحه:4-

ونڪړم کوم چې د رشتې د ماتولو سبب جوړ شي۔

## پۀ رشته ماتوونڪي باندې لعنت

افسوس چې څنګه د **الله پاک** نه ویره ختمیږي هم داسې د رشتو محبت او فِکر هم ختمیږي، مونږ ته ترغیب خو دا دے چې د رشتې ماتولو نه ویریږۍ، ویریږۍ چې هسې نۀ د رشتې د ماتولو پۀ ګناه کښې اخته نشم خو حالات داسې دي چې خلق د رشتو ماتولو طریقې لټوي ❀ آؤ جي! که د واده وغیره موقع وي ❀ پۀ خپلوانو کښې د غم ښادۍ څۀ معامله وي، خلق بهانې لټوي، لټولے کیږي چې د کومې خبرې پۀ بنیاد زۀ جګړه وکړم؟ څۀ داسې وي چې خفه شم او ټول زما ټخلا کولو له راشي۔ داسې پۀ خاندانونو کښې کیږي۔ دا ډیره بده خبره ده، **الله پاک** پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَ یَقْطَعُوْنَ مَاۤ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنْ یُّوْصَلَ وَ یُفْسِدُوْنَ فِی الْاَرْضِۙ اُولٰٓىٕكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَ لَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ(۲۵)

(پارہ:13، سورۂ رعد:25)

ترجمہ کنزُالعِرفان: او د کوم څۀ چې الله د را یو ځائے کولو حُکم فرمائیلے دے هغه پریکوي او پۀ زمکه کښې فساد خوروي د هغوئي د پاره لعنت دے او د هغوئي د پاره بد کور دے۔

اَللّٰهُ اَکْبَر! معلومه شوه چې پۀ رشته ماتوونڪي باندې د **الله پاک** لعنت وریږي۔

## د رحمت نه محرومه خلق

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یو ځل د رسولِ عربي، مکي مَدَني صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حدیثونه مبارک بیانول، پۀ دې کښې یــې وفرمائیل: هر خپلولۍ ماتوونڪے دې زمونږ د محفل نه لاړ شي۔ یو ځوان پاڅیدو او د خپلې [د پلار د طرفه د] ترور کره لاړو د کومې سره چې د هغۀ د ډیرو کلونو نه ورانه وه، چې کله دواړه د یو بل نه راضي شول نو هٰغه ځوان

ته ترور ووئيل: تهٔ لا ړ شهٔ او د دې د سبب پوښتنه وکړه چې اخر داسې ولې وشول؟ (يعنې د ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اعلان څهٔ حکمت دے؟) ځوان حاضر شو او چې کله يې پوښتنه وکړه نو حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائيل چې ما د دواړو جهانو د آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا اوريدلي دي: **پهٔ کوم قوم کښې چې خپلولۍ ماتولو والا وي، پهٔ هٰغه قوم باندې د اللّٰه پاک رحمت نهٔ نازلېږي۔** (1)

## د رشته ماتوونکي سپيرهٔ والے

**اللّٰه! اللّٰه!** غور وکړئ چې صحابئ رسول دے، د خلقو پهٔ مينځ کښې تشريف فرما دے او څهٔ بيانوي؟ د دواړو جهانو د رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک حديثونه---!! چې پهٔ داسې محفل باندې هم رحمتونه نهٔ نازلېږي نو بيا به چرته نازلېږي خو د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره انديښنه شوه چې هسې نهٔ چې پهٔ دې محفل کښې چرته څوک رشته پريکوونکے وي او مونږه د هغهٔ پهٔ وجه د رحمت نه محرومه پاتې شو---!!

دا دے د رشتې د ماتولو سپيرهٔ والے---!! دلته غور وکړئ چې پهٔ کوم کور کښې چې رشته ماتوونکے وي، پهٔ کومه کوڅه، پهٔ کومه محله کښې چې اوسيږي، پهٔ هٰغه کور، پهٔ هٰغه کوڅه او محله باندې به رحمتونه څنګه نازلېږي---؟ او څوک چې پخپله رشته ماتوونکے دے نو د هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې به د رحمت نه ډک کلام قرآنِ کريم څنګه راځائے کيږي؟

## نيکۍ نهٔ قبلېږي

**پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** د هرې جُمعې پهٔ شپه د بندګانو اعمال د **اللّٰه پاک** پهٔ بارګاه کښې پيش کولے شي فَلَا يُقْبَلُ عَمَلُ قَاطِعِ رَحِم (خو) **اللّٰه پاک** د رشتې ماتوونکي اعمال نهٔ قبلوي۔ (2)

---

1...الزواجر، جلد:2، صفحه:137136۔

2...الادب المفرد، صفحه:32، حديث:61۔

## الله پاک هغهٔ ماتوي

مُحَمَّدِ عربي، مکي مَدَني صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: **الله پاک** چې کله مخلوق پیدا کړو نو رَحم راپاځیدو او د رَحم کوونکي **الله** پاک پهٔ لمن [یعنې رحمت] کښې یې پناه واخستله- **الله پاک** ورته وفرمائیل: أَمَا تَرْضِيْنَ أَنْ أَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ، وَأَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ؟ آیا ستا دا خوښه نهٔ ده چې تا څوک جوړه کړي زهٔ هم هغهٔ جوړ کړم او چې څوک تا ماته کړي زهٔ هم هغهٔ مات کړم- رحم عرض وکړو، آؤ اے زما ربه! الله تعالیٰ وفرمائیل، بیا به هم داسې کیږي-(1)

**پهٔ یو بَل حدیثِ پاک کښې دي**: زهٔ رحمان یم او د رحم ماده ما د خپل نوم نه ویستلې ده، فَمَنْ وَصَلَهَا وَصَلْتُهُ، وَمَنْ قَطَعَهَا بَتَّتُّهُ چا چې دا جوړه کړو هغهٔ به زهٔ جوړ کړم او چا چې دا ماته کړه زهٔ به هغهٔ مات کړم-(2)

## د دوزخ نه لرې کوونکے عمل

یو بنده د **الله پاک** اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عرض وکړو: ما ته داسې عمل وښایئ کوم چې ما جنَّت ته نزدې او د دوزخ نه مې لرې کړي- د **الله پاک** محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: د **الله پاک** عبادت کوه، هیڅ یو څیز د هغهٔ شریک مهٔ ګرځوه، نـمونځ کوه، زکوٰة ادا کوه او صله رحمي کوه-(3)

## د عمر زیاتولو والا نیکي

**د خوږ مصطفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: څوک چې پهٔ خپل رزق کښې

---

1...بخاری، کتاب الادب، باب من وصل وصلہ اللہ، صفحہ:1495، حدیث:5987-
2...الادب المفرد، صفحہ:30، حدیث:53-
3...مسلم، کتاب الایمان، باب بیان الایمان الذی...الخ، صفحہ:30، حدیث:13-

فراختيا غواړي يا ډير عمر غواړي نو هغهٔ له پکار دي چې صله رحمي وکړي-[1]

الله پاک دې مونږ ته د خپلوانو سره د صِله رحمی کولو او د هغوئي سره د ښه سلوک کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د صِلهٔ رحمی 10 فائدې

حضرت فقيه ابو ليث سمر قندي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د صِلَهٔ رحمی کولو 10 فائدې دي: (1): د الله پاک رضا حاصليږي (2): د خلقو د خوشحالی سبب دے (3): فرښتے پرې خوشحاليږي (4): د مسلمانو د طرف نه د هغه ګس تعريف کيږي (5): شيطان ته پهٔ دې باندې تکليف ميلاؤيږي (6): عمر ورسره زياتيږي (7): پهٔ رِزق کښې برکت راځي (8): وفات شوي مسلمانان پلار نيکونه خوشحاليږي (9): پهٔ خپل مينځ کښې محبت زياتيږي (10): د وفات نه پس د هغهٔ پهٔ ثواب کښې اضافه کيږي، ځکه چې خلق د هغهٔ پهٔ حق کښې د خير دعاګانې کوي-[2]

الله پاک دې مونږ ته د صِله رحمی کولو، د رشتو جوړولو، د خلقو سره د نيک سلوک کولو والا د جوړيدو توفيق راعطا کړي- د صِله رحمی د نور ذهن جوړولو او د دې د فضيلتونو او فائدو وغيره د تفصيلي معلوماتو د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد اِلياس قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه ډيره ښکلې او مختصر شان رساله ہاتھوں ہاتھ پھوپھی سے صلح کرلی ولولئ!

## د نيکو حِرص کوونکي جوړ شئ!

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اِحۡرِصۡ عَلٰى مَايَنۡفَعُكَ

1... مسلم، کتاب البر والصلة، باباب صلة الرحم وتحريم قطعتها، صفحه:993، حديث:2557-
2... تَنبيهُ الغافِلِين، باب صلة الرحم، صفحه:74-

وَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَلَا تَعْجِزْ يعني پۀ هغې باندې حرص کوه څه چې تا له فائده درکوي او د الله پاک نه مدد غواړه او مۀ عاجزه کېږه-[1]

## د نيکۍ پۀ معامله کښې بے صبره شئ---!!

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: ياد ساتئ چې د دُنيا پۀ څيزونو کښې قناعت او صبر ښه دے خو د اخرت پۀ څيزونو کښې حِرص او بے صبري اعلیٰ ده، د دِين يوې درجې ته پۀ رسيدلو باندې قناعت مۀ کوئ بلکې د وړاندې تللو کوشش کوئ-[2] **الله پاک** دې مونږ ته د نيکو کولو حِرص راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## پۀ نيکو کښې تادي کول د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام طريقه ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ نيکو کښې تادي کول د انبيائے کرامو طريقه ده- پۀ قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ<br>(پاره:17، سورۂ انبياء:90) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه هغوئي به پۀ نيکو کښې تادي کوله- |

يعني د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام انداز مبارک وو چې د نيکو پۀ کارونو کښې به يې تادي کوله-

## پۀ صدقه کولو کښې يې تادي وکړه

صحابئ رسول حضرت عُقبَه بن حَارِث رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل ما د مازديګر نمونځ

1...مسلم، کتاب القدر، باب فى الامر بالقوة، صفحه:1027، حديث:2664-

2...مرآة المناجيح، جلد:7، صفحه:211-

پهٔ مسجدِ نبوي شريف کښې پهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې ادا کړو، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې څنګه سلام وګرځولو، فوراً ودريدلو او تيز تيز قدمونه يې اخستل او کور ته يې تشريف يوړلو، دا د معمول خلاف انداز يې چې وليدلو نو صحابهٔ کرام ويريدل، لا لږ وخت تير نهٔ وو چې رسولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واپس تشريف راوړلو او اوئې فرمائيل: ما ته راياد شو چې د سرو زرو يوه ټوټه مې پهٔ کور کښې ايښودې ده، بس د هغې د ځان سره ساتل مې خوښ نهٔ شو، ځکه مې د هغې د صدقه کولو حکم وکړو او راغلم۔ (1)

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ---!!

## پهٔ نيکو کښې تادي کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پهٔ دې حديثِ پاک باندې داسې غور هم وکړئ چې پهٔ کور کښې د سرو زرو يوه ټوټه وه، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه صدقه کول غوښتل، دا خو هم ممکن وه چې د نمونځ نه پس يې د معمول مطابق تشريف کينبودے وے، دُعا يې کړے وے، د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم سره يې ملاقات کړے وے، بيا يې سرهٔ زر صدقه کړے وے خو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ له تعليم راکړو چې پهٔ صدقه کولو کښې يې لږ شان ناوخته کول هم خوښ نهٔ کړل او فوراً يې صدقه ورکړله۔

الله! الله! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو سراسر نيکي ده، هلته خو د نيکۍ نهٔ علاوه د بل کار هډو تصور هم نشي کيدے بلکې نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو هغهٔ دے د چا اداګانې اختيارول چې افضله نيکي ده- د دې باوجود رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ

---

1... بخاری، کتاب الاذان، باب من صلی بالناس...الخ، صفحه:266، حديث:851۔

وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ صدقه کولو کښې تادي وکړه- معلومه شوه چې پهٔ نیکو کښې تادي کول زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکه طریقه ده، ځکه مونږ له هم پکار دي چې پهٔ نیکو کښې تادي وکړو، بس چې څنګه موقع میلاؤ شي، بیا ورځ، ګینټه او منټ خو غټه خبره ده، یو سیکنډ انتظار هم ونکړو او فوراً هغه نیکي وکړو-

## موقع غنیمت وګڼئ---!!

د **الله پاک** د نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مَنۡ فُتِحَ لَهٗ بَابٌ مِّنۡ خَیۡرٍ د چا د پاره چې د خیر دروازه پرانستے شي فَلۡیَنۡتَهِزۡهُ نو هغهٔ له پکار دي چې پهٔ منډه پهٔ هغه دروازه داخل شي فَاِنَّهٗ لَا یَدۡرِیۡ مَتٰی یُغۡلَقُ عَلَیۡهِ ځکه چې هغهٔ ته دا معلومه نهٔ ده چې دا دروازه به د هغهٔ د پاره کله بندولے شي- (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** ✿ اوس لا مونږه ژوندي یو، دا د خیر دروازه ده ✿ ساه ګانې رواني دي، دا هم د خیر دروازه ده ✿ مونږ له د نیکۍ دعوت راکړے شو، دا هم د نیکۍ دروازه ده ✿ پهٔ زړهٔ کښې د نیکۍ خیال راغلو، دا هم د خیر دروازه ده- اوس مونږ له پکار دي چې پهٔ منډه پهٔ دې دروازه کښې داخل شو، یعني فوراً نیکي وکړو، لږ سعت پس، سبا، بلې ورځ ته یې نهٔ پریږدو، څهٔ پته لګي چې کله دا توفیق واخستے شي-

## پهٔ دُنیائي کارونو کښې ناوخته کیدل ښه خبره ده

دلته یوه معامله دا هم ده چې مونږه د دُنیا کارونه مخکښې او د اخرت کارونه وروستو کیږدو- که د دې اُلټا وکړو نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! دُنیا به مو هم ښه شي او اخرت به مو هم ښه شي- پهٔ **حدیثِ پاک کښې دي:** اطمینان پهٔ هر څیز کښې دے، د اخرت د کار نه

---

1...زُہد لابن مبارک، صفحه:76، حدیث:117۔

علاوه-[1]

يعنې د دُنيا کار پهٔ قلاره کول ښه دي چې ممکنه ده چې هغه کار خراب وي او پهٔ ناوخته کيدو کښې د هغې خرابي معلومه شي او مونږه د هغې نه ډېه وکړو خو د اخرت کار خو ښه دے دا د موقعې ميلاؤيدو سره وکړه چې پهٔ ناوخته کولو کښې کيدے شي چې موقع د لاس نه لاړه شي-

**الله پاک** فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ؕ (پاره:2، سورهٔ بقره:148) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو تاسو پهٔ نيکو کښې وړاندي شئ- |

شيطان د خير پهٔ کار کښې ناوخته کول کوي او پهٔ اخره کښې يې بيا منع کړي-[2]

## نيک کار سبا ته مهٔ پريږدئ---!!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د افسوس خبره ده چې مونږه د دُنيا پهٔ هر کار کښې تادي کوو خو پهٔ نيک اعمال کښې رانه سستي کيږي ❁ د خوراک د پاره چرې هم دا نهٔ وايو چې سبا به يې وخورم، د نمونځ د پاره وئيلے کيږي چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه به يې شروع کړم ❁ که پيسې ګټل وي نو هم نن يې ګټو، زړهٔ غواړي چې بس د سبا نمر نهٔ راخيژي او زهٔ هم د شپې د شپې مالداره شم، د نيک کارونو پهٔ باره کښې ذهن جوړيږي چې اوس خو لا ډير ژوند پروت دے، نيکۍ به هم وکړم ❁ که د بهر ملک ويزه لګول وي، نوے کاروبار شروع کول وي، پهٔ دنيائي لحاظ سره څهٔ کارنامه کول وي نو ذهن جوړيږي: د نن کار به سبا ته نهٔ پريږدې- خو چې نيکۍ کول وي نو---!! نن سترے

1...ابو داود، کتاب الادب، باب فی الرفق، صفحه:757، حديث:4810۔

2...مراة المناجيح، جلد:6، صفحه:627 ملخصاً۔

یم، نن راته ډیر کار پروت دے، نن مې زړۀ نۀ غواړي، د سبا نه، د بلې ورځ نه، د بلې جُمعې نه به یـې شروع کړم-

آه! افسوس! د نیکو پۀ معامله کښې پۀ **سبا سبا** کولو څومره ژوند تیر شو خو دا سبا نۀ راغلے وو او نۀ به راشي، اُلټا هم مونږ. ته قبر ته کوزیدل دي، بیا به پښیمانه پاتې یو- صحابئ رسول حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: **تَسوِیف** (یعني دا سوچ کول چې زر به نیکۍ شروع کړم، دا سوچ) د شیطان پۀ لښکرو کښې لوئي لښکر دے، آه! عام طور شیطان د دې پۀ ذریعه انسان دوکه کړي- [1]

## د دوزخیانو نعرې

حضرت عبد الله بن مبارک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ما ته دا خبره رارسیدلې ده چې د اکثرو دوزخیانو نعرې به دا وي: **اُفٍّ لِسَوْفَ، اُفٍّ لِسَوْفَ** یعني تُف دے پۀ زر باندې، تُف دے پۀ زر باندې- [2]

مطلب دا دے چې مونږه پۀ دُنیا کښې هم دا وایو چې سبا به یـې وکړم، سبا به یـې وکړم- دا چې کوم انداز وو، پۀ دې باندې تُف دے، دې مونږه د نیک اعمالو نه لرې کړو-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** څومره د عبرت خبره ده، څه دوزخیان به داسې وي چې هغوئي به پۀ دُنیا کښې **سبا سبا** کول، افسوس چې زمونږه حال څۀ داسې دے- زمونږه پۀ ذهنونو کښې ډیرې منصوبې وي، مونږ. پۀ زړونو کښې ډیر خوبونه پاللي وي، مونږه روزانه د خپل مستقبل د پاره ډیر سوچونه کوو، ډیرې نوې نوې منصوبې جوړوو خو افسوس چې د نیک کارونو منصوبې نۀ جوړوو، مونږ. ته مره کیدل هم دي، قبر ته کوزیدل هم دي، د **الله پاک** پۀ حضور کښې حاضریدل هم دي، پۀ دې باره کښې بس

1...موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب قصر الامل، جلد:3، صفحه:349، حدیث:208۔

2...موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب قصر الامل، جلد:3، صفحه:351، حدیث:217۔

د لم ليتې نه كار اخلو خو ياد ساتئ چې كله مَلَک الموت حضرت عزرائيل عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړي، بيا به د هغې نه پس هيڅ منصوبه، هيڅ يو خوب باقي نۀ پاتې كيږي، صرف به هم يو څيز باقي وي او هغه دي زمونږه اعمال- ځكه مونږ ته پۀ دې دُنيا كښې د وړاندې تللو سره څۀ كول دي، ښه كور، ښه ګاډے، ښه كاروبار، دا زمونږه د مستقبل سوچ دے **خو زمونږه عمل زمونږه د نن ذمه واري** (***Responsibility***) ده- چې مونږه به خپل مستقبل ته رسو او كه نۀ به رسو، د دې هيچا ته پته نشته، خو مونږ به قبر ته ضرور كوزيږو، د خپلو اعمالو سره به كوزيږو، دا هر مسلمان ته پته ده- ځكه ضروري دي چې مونږه نن او هم د اوس نه د خپلو اعمالو فِكر شروع كړو-

## پۀ نيک اعمالو كښې تادي كوئ---!!

خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د 7 څيزونو نه مخكښې پۀ نيک اعمالو كښې تادي كوئ! تاسو د څۀ انتظار كوئ؟ آيا د دې چې (1): هيرونكې محتاجي راشي (2): يا سركشه جوړوونكې مالداري راشي (3): يا ستا څۀ مرض شي (4): يا عقل ضائع كوونكے بوډا والے راشي (5): يا ناڅاپه مرګ راشي (6): يا دجّال ظاهر شي (7): يا قيامت قائِم شي او قيامت سخت مصيبتونو والا، ډير تريخ دے-[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** خومره ښكلے سبق راكړے شوے دے، واقعي ده چې داسې كيږي: ❁ انسان د اخرت پۀ معامله كښې **سبا سبا** كوي ❁ بيا چرته تنګدستي راشي، انسان پۀ ګټلو كښې مصروف شي ❁ يا بيا مال ډير شي، د دې پۀ خيال ساتلو كښې اخته شي ❁ يا بيا بيمار شي، هم داسې **سبا سبا** كوي او بوډا شي، بيا يې هډوكي بے دمه شي، سجده كول هم غواړي خو نۀ يې شي كولے ❁ او خومره داسې دي چې

1... ترمذی، کتاب الزہد، باب ماجاء فی المبادرة بالعمل، صفحه:553، حديث:2306۔

**سبا سبا** کوي، د سبا نه به نیکۍ شروع کووم، د فلانکۍ ورځې نه به نیکۍ شروع کووم خو آه! ناځاپه مرګ راشي او راګیر یې کړي او انسان د نیک اعمالو کولو نه بغیر د قبر کندې ته کوز شي- ځکه د دې نه مخکښې چې داسې حالت شي، مونږ له نیک اعمال کول پکار دي-

**الله پاک** دې زمونږه د حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فیضان نصیب کړي، کاش چې زمونږه د صِله رحمۍ جذبه او د نیکو حِرص نصیب شي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## پۀ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: د تفسیر اوریدو او اورولو حلقه

❁ **قرآنِ مجید زده کول ډیر د فضیلت کار دے:** ❁ پۀ حدیثونو کښې داسې مضمون دےچې: پۀ داسې حال کښې سبا کړه چې یا خو تۀ عالِم یې او یا د دِین طالبِ عِلم [1] ❁ د یو روایت مطابق سحر د قرآنِ مجید یو آیت زده کول د 100 رکعتو نفلونو کولو نه بهتر دے- [2]

❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي عاشقانِ رسول د سحر د نـمونځ نه پس د تفسیر اوریدو او نورو ته د اورولو حلقه لګوي ❁ پۀ دې کښې د قرآنِ پاک درې آیتونه ❁ د هغې ترجمه او تفسیر اوریدے او اورولے شي ❁ د فیضانِ سُنَّت دَرس ورکولے شي ❁ شجره شریف لوستلے شي ❁ دُعا کیږي او ❁ پۀ آخِره کښې د اشراق او څاخت نـفلونه هم ادا کولے شي

❁ **تاسو هم د تفسیر اوریدو او نورو ته د اورولو پۀ حلقه کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ!** اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! ډیر برکتونه به درنصیب شي ❁ د حدیثِ پاک مطابق

---

1...دارمی، المقدمة، باب فی ذهاب العلم، صفحه:96، حدیث:254۔

2...ابن ماجه، باب فضل من تعلم القرآن و علمه، صفحه:48، حدیث:219۔

څوک چې سحر جومات ته د نیکۍ زده کولو د پاره لاړ شي، هغهٔ ته د عمرې ثواب میلاویږي-[1] ❀ چې د سحر وخت پهٔ نیکو کښې تیر شي نو برکت به مو نصیب کیږي ❀ تهوله ورځ به مو ښهٔ تیریږي ❀ سحر سحر به مو د عِلمِ دِین زده کولو موقع نصیب کیږي ❀ د شجره شریف پهٔ شکل کښې به د نیکانو بندګانو ذِکر کیږي ❀ د هغوئي محبت به پهٔ زړهٔ کښې کښیني ❀ د اولیائے کرامو رُوحاني توجه به درنصیب کیږي ❀ ایمان به مو تازه کیږي ❀ د هغوئي پهٔ وسیله به شوې دُعاګانې اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! قبلیږي ❀ یو ډیر لوئي برکت دا چې **د سحر د نـمونځ نه تر اشراق پورې پهٔ جومات کښې ایساریدل د مصطفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **سُنَّت دي** پهٔ دې باندې به د عمل کولو سعادت درنصیب کیږي ❀ د حدیثِ پاک مطابق څوک چې د سحر د نـمونځ نه پس پهٔ ذِکرُ الله کښې مشغول اوسي، بیا د اشراق، چاشت نفلونه وکړي، هغهٔ ته به د دوزخ وور نهٔ ورنزدې کیږي-[2] ❀ تاسو هُم د تفسیر د اوریدو او اورولو پهٔ حلقه کښې د شرکت کولو نیت وکړئ!

## ویزې میلاؤ شوې

یو اِسلامي وررور تقریباً د 14 کالو نه پهٔ بهر ملک کښې دے چرته چې د هغهٔ خپل کاروبار دے، هغهٔ ته یو ځل پهٔ کارخانه کښې د کار کوونکو ضرورت پیښ شو- هغهٔ د ویزو د پاره بیا بیا درخواستونه جمع کړل، خو د ډیرو کوششونو باوجود ویزې میلاؤ نه شوې- ډیر کلونه داسې تیر شول، هغهٔ ډیر پریشانه وو ځکه چې د ملازمانو د نشتوالي پهٔ وجه د هغهٔ نقصان کیدو- خیر هغهٔ همت وکړو یو ځل یـې بیا درخواست جمع کړو، پهٔ

1...مستدرک، کتاب العلم، باب من جاء المسجد...الخ، جلد:1، صفحه:281، حدیث:317-
2...شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحه:420، حدیث:3957-

دغه وخت کښې يو اِسلامي ورور هغهٔ ته د **شجرهٔ قادريه عطاريه** نه د شجرهٔ عَالِيَه د دُعائيه شعرونو لوستلو مشوره ورکړه- هغهٔ د شجرې شريف دعائيه شعرونه پرله پسې لوستل شروع کړل- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د **شجرهٔ قادريه رضويه ضيائيه عطاريه** لوستو پهٔ برکت د هغهٔ ٥غه کار کوم چې د تيرو ډيرو کلونو راسې نه کيدو، ډير پهٔ حيرانئ سره پهٔ يو څو ورځو کښې وشو او هغهٔ ته ويزې ميلاؤ شوې-

مُشکلیں حل کر شہِ مشکل کشا کے واسطے | کر بلائیں رد شہیدِ کربلا کے واسطے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## اِسلامک سپیچز (Islamic Speeches) موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د سمارټ فون (***Smartphone***) پهٔ ذريعه هم د عِلمِ دِين عام کولو کوشش کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، پهٔ کومو کښې چې يو موبائل ايپلي کيشن اسلامک سپيچز (***Islamic Speeches***) هم دے، د کوم پهٔ ذريعه چې تاسو د دعوتِ اِسلامي ❁ هفته وار ❁ د جُمعې ❁ او د مختلف ايونټس نوي او زاړهٔ بيانونه پهٔ اسانئ سره حاصلولے شئ ❁ دا بيانونه يواځې پهٔ اُردو ژبه کښې نهٔ بلکې پهٔ انګلش، سندهي، پښتو، بنګالي ژبو کښې هم موجود دي ❁ تاسو دا بيانونه لوستلے هم شئ او پهٔ دې ايپلي کيشن کښې دا بيانونه پهٔ آډيو کښې اوريدے هم شئ ❁ د بيانونو د لټولو سهولت هم پکښې موجود دے د کوم پهٔ ذريعه چې تاسو پهٔ اسانئ سره د خپلې خوښې بيان لټولے شئ ❁ تاسو د خپلې خوښې بيانونه فيورټ کولے او محفوظ کولے هم شئ-

هم نن دا ايپلي کيشن پهٔ خپل موبائل کښې ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه پۀ **مَدَني چینل** باندې **لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي اتوار په شپه به هم د ماسخوتن د نمانځه نه پس د شپې تقریباً پاؤ باندې 9 بجې پۀ مَدَني چینل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پۀ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې ځپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه هره هفته د یوې **دِیني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د طالبِ علمانو پۀ باره کښې 18 سوالونه او جوابونه** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله ځپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د **الله پاک** د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر ***(Share)*** کړي! ❁ مکتبة المدینه وړاندې کوي په قرآن، حدیث، عقائدو، تصوف او فقه کښې د مکمل مهارت لرونکي عالِم اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه د سیرت پۀ مختلفو اړخونو باندې لیکلے شوے کتاب: **فیضانِ امام اہلسنت**- هم نن دا کتاب د مکتبة المدینه د یوې څانګې نه پۀ 415 **روپۍ** پۀ بیعه واخلئ! ځپله یې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بیان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو

ځو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِیۡ فَقَدۡ اَحَبَّنِیۡ وَمَنۡ اَحَبَّنِیۡ کَانَ مَعِیَ فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مسواک کولو سُنَّت او آداب

**د آخري نبي، رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامین: (1):** دوه رکعته د مسواک سره ادا کول بغیر د مسواک نه د 70 رکعتونو نه افضل دي-[2] **(2):** د مسواک استعمال د ځان د پاره لازمي کړئ ځکه چې پهٔ دې کښې د خُلې صفائي او د **الله پاک** د رضا سبب دے-[3]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** ❀ حُضور نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هره شپهٔ ډیر ځله مسواک کولو، هر ځل د اوده کیدلو پهٔ وخت هم او د بیداریدلو پهٔ وخت هم ❀ بغیر د ښه نیت نه د مسواک کولو سره خو به طِبي فائدې (***Medical Benefits***) حاصلې شي خو ثواب به نهٔ میلاؤیږي، مثلاً که د اوداسه د پاره مسواک کول وي نو دا درې نیتونه وکړئ: د **الله پاک** د رضا، د سُنَّت ادا کولو او د ذِکر او درود د پاره د خُلې پاکولو پهٔ غرض مسواک کووم ❀ مشائخ کرام فرمائي: څوک چې د مسواک عادت لري پهٔ ځنکدن کښې به ورته کلمه وئیل نصیب کیږي ❀ د حضرت عبد الله ابن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې پهٔ مسواک کښې 10 خوبیاني دي: خُله صفا کوي، ووری مضبوطوي، نظر تیزوي، بلغم لرې کوي، د خُلې بدبوئي

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

2...اَلتَّرغِیۡب وَالتَّرہِیۡب، کتاب: الطهارة، الترغیب فی السواک، صفحه:86، حدیث:18-

3...مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:438، حدیث:5869-

ختموي، د سُنَّت موافق دے، پهٔ مسواک کولو فرښتے خوشحالیږي، پهٔ مسواک کولو رَبّ رضا کیږي، مسواک نیکۍ زیاتوي او معده صحیح کوي ❁ مسواک پهٔ ښي لاس کښې داسې نیسئ چې قچۍ ګوته د دې نه لاندې او د مینځ درې ګوتې بره او غټه ګوته یې پهٔ سر وي ❁ مسواک چې کله د استعمال قابل پاتې نهٔ شي نو غورځوۍ یې مهٔ ځکه چې دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، پهٔ احتیاط سره یې پهٔ یو ځائے کښې کیږدئ یا یې ښخ کړئ یا یې د کاڼي وغیره وزن سره وتړئ او پهٔ سمندر (یا سیند وغیره) کښې یې ډوب کړئ۔ [1]

یاد ساتئ! د روژې پهٔ حالت کښې هم مسواک کول سُنّت دي، **البته** که د مسواک جوولو پهٔ وخت ترینه ریشې لرې کیږي یا یې خوند محسوسیږي نو داسې مسواک نهٔ دي کول پکار۔ [2]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 صفحو رساله 550 **سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو
رب کے در پر جھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو [3]

**الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...550 سنتیں اور آداب، صفحه:47،50۔
2...فتاوىٰ رضويه، جلد:10، صفحه:511۔
3...وسائلِ بخشش، صفحه:670،671 ملتقطًا۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہم حيران شول چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷
2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹
3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰
2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵
3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵